مسؤولیت متن، املاء و انشاء این نوشته به دوش خود نویسنده میباشد

غمخور ننگرهاری

۲۰۱۷/۱۲/۰۲

# زه والی یم که جوالی یم

خدایه دا خنکه میدان ده د مزار
چې والی صاحب پکی گرځي بی اختیار
خلک ناست دي طیاره کی میډیایی ننداره کړی

ولسمشر می په قار دی
هم ولس ورته انتظار دی
عطا نور وایی ناوخت شو
څه قیصه می په دی بخت شو

زه والی یم که جوالی یم   یا د عقل نه خالی یم

ټول دنیا راته حیران دی
هم پریشان ټول دوستمیان دی
دا دوهم کار د غنی دی
اوس مونږ پوه چې زدنی دی

دوستم بای له ملکه های کړ   ترکستان یی ورته ځای کړ



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

نن نوبت لکه ځما دی

خدای خبر سبا پر چا ی

ښه ساده غوندی ښکاری دی

هر یو مار ته مداری دی

زه نواز ورته سلام کړم        ختم دلته خپل کلام کړم